په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو
او حفظ الصحې پروگرام

# د روان ۲۰۱۹ کال په نومبر میاشت کې د (۱۰،۳۰۰) کورنیو لپاره د څښاک اوبه برابرې شوې



د روان (۲۰۱۹) کال په نومبر میاشت کې د هېواد په (۱۳) ولایتونو لکه بادغیس، بغلان، بامیان، دایکندي، غور، هلمند، کندوز، ننگرهار، نورستان، پروان، تخار، وردگو او زابل ولایتونو کې د څښلو د اوبو (۳۷) پروژې بشپړې او د خلکو گټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

## یادي بشپړې شوې (۲۸) پروژې عبارت دي له:

۱ د بامیانو ولایت په یکاولنگ ولسوالۍ او مرکز، د پروان ولایت په سرخ پارسا ولسوالۍ، د دایکندي ولایت په شهرستان ولسوالۍ، د ننگرهار ولایت په رودات، کوټ، نورگرم او نازیانو ولسوالیو، د بادغیس ولایت په قادس او آبکمري ولسوالیو، د غور ولایت په فیروزکوه ولسوالۍ، د کندوز ولایت په روستاق آباد ولسوالۍ، د زابل ولایت په قلات ولسوالۍ، او د بغلان ولایت په ده‌صلاح ولسوالۍ کې د اوبو رسولو د (۲۱) شبکو جوړول؛

۲ د هلمند ولایت په نهرسراج، ناوه او نادعلي ولسوالیو کې د اتو ژورو څاه گانو جوړول

۳ د تخار ولایت په روستاق‌آباد ولسوالۍ کې د (۱۰) ژورو څاه گانو او د وردگو ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې د (۱۴) نورو کیندل شامل وو.





# د دغې پروژې ټول ټال لګښت

**ټولټـال لګښــت**

**۹۳،۵۹۰،٤٤۹**

**افغانــۍ**

**(یونیسف)**

**۴۹،۲۹۷،۳۲۶**

افغانــۍ

**د مالیې وزارت**

**٤٤,۲۹۳,۱۲۳**

افغانــۍ

## د حفظ‌الصحې او پاکوالي د تعلیماتو څانګې فعالیتونه

د حفظ‌الصحې او نظافت د پاکوالي د تعلیماتو څانګې ددې میاشتې په لړ کې په ننګرهار، بادغیس، غور، دایکنډي، پکتیا او هلمند ولایتو نو کې (۱۱۱) کلي په خلاصه فضا کې له رفع‌حاجت نه پاک تصدیق کړي او (۲۳۵) نور یې پاک تایید کړي دي. په دغو ولایتونو کې د ځایي خلکو لخوا ۲۳۱ مبرزونه جوړ او ۸۴۶ نور دوديز مبرزونه اصلاح شوي دي.







**۲۳۱** مبرزونه جوړ شوي دي

**۸۴۶** مبرزونه اصلاح شوي دي